مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د جولای درېیمه | درېیم کال|۳۹۸یمه ګڼه

# د وتلو له ژمنو سره همهاله؛
# امریکایي ځواکونه د بګرام پوځي اډې پر پراخولو بوخت دي



۳

## د دوحې بین‌الافغاني غونډې ته څوک ورځي او څه پایله به ولري؟
۲ مخ

## بیا هم د ټاکنو په باب پر ځای پاتې اندېښنې!
۲ مخ

## امریکایان د رواني جګړې د دوام په لټه کې
۳ مخ

## نبیل: ولسمشر غني د ملت په پیسو ځانته کمپاینونه کوي

د ملي امنیت پخواني رییس او راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند رحمت الله نبیل ویلي، راتلونکې ټاکنې یو فرصت دی، خو حاکم ټیم هڅه کوي چې دغه فرصت له ننګونو سره مخ کړي.
نوموړي دغه راز ویلي چې حاکم ټیم په خپل ټول توان هڅه کوي چې په راتلونکو ټاکنو کې پراخو درغلیو ته لار هواره کړي. نبیل چې په مزارشریف کې یې یوې غونډې ته خبرې کولې، ویلي چې ولسمشر غني والیان او نور لوړپوړي دولتي چارواکي د رایو په بدل کې پر دندو ګوماري او دولتي قراردادونه په دې شرط خلکو ته ورکوي، چې په راتلونکو ټاکنو کې د ده ملاتړ وکړي.
هغه زیاته کړې، د ولسمشر له خوا پر کمپاین مصرفېدونکې پیسې له بهره نه دي راوړل شوې، بلکې دا د همدې ملت پیسې دي. رحمت الله نبیل دغه راز د سولې پروسې ته په اشارې، ټینګار کړی چې د امریکا او طالب پلاوي ترمنځ د خبرو جزییات باید له خلکو سره شریک شي.
د نبیل دغه څرګندونې داسې مهال دي، چې تر دې وړاندې د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو او سیاسیونو هم د ملي یووالي حکومت مشران د ټاکنو پر مهندسي کولو او له دولتي امکاناتو د کمپاین په توګه پر ګټې اخیستنې تورن کړي دي.


## له افغانستانه تر وتلو وروسته په دغه هېواد کې قوي استخبارات پرېږدو



۲ مخ

کتاب
۴ مخ

## مرکب اغېز




ښه ده چې د مرکب اغېز په اړه د کتاب له متنه درته د دریو ملګرو کیسه وکړم: (دری داسې ملګري فرض کړئ چې له ماشومتوبه سره رالوی شوي دي. په یوه کوڅه کې اوسېږي، یو ډول خویونه لري او د هره یوه کلنی عاید نږدې ۱۵ زره ډالره دی. دریو واړو ودونه کړي، وزن او روغتیا یې طبیعي دي او تر واده وروسته چاغېدو ته یوڅه اندېښمن دي.)

## په کابل کې د اوبو لګولو یو کانال چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو




د کابل ولایت د ګلدرې ولسوالۍ اړوند، د اوبو لګولو یو کانال د بیارغولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.
د اوبو لګولو دغه کانال ۱.۵ کیلومتر اوږدوالی لري او په پنځو کلیو کې شاوخوا ۴۰۰ جریبه ځمکه خړوبوي او ۷۵۰ کورنۍ ورڅخه هر اړخیزه ګټه اخیستلای شي.
د اوبو لګولو د یاد کانال د بیارغولو ټولیز لګښت څه باندې دوه میلیونه افغانۍ دی. د دغه کانال په رغولو کې د سیمې ځینو اوسېدونکو ته د کار زمینه هم برابره شوې وه او سربېره پر دې به د اوبو له ضایعاتو څخه د مخنیوي ترڅنګ، د هغو ځمکو کرنیز محصولات هم لوړ شي، چې د دغه کانال له لارې خړوبیږي.
د سیمې اوسېدونکي د دغه کانال له جوړېدو هرکلی کوي او وایي چې په دې سره به یې هغه ځمکې تر اوبو لاندې شي، چې له دې مخکې شاړې پاتې وې.

## غني: جامعهٔ جهانی و نهادهای انتخاباتی از پروسهٔ انتخابات نظارت دقیق نمایند



رئیس‌جمهور غنی، بر شفافیت و عدم مداخلهٔ مسئولین دولتی در پروسه انتخابات تأکید نموده و از جامعهٔ جهانی و نهادهای انتخاباتی خواست که از هر مرحلهٔ پروسه انتخابات، نظارت دقیق انجام دهند.
در خبرنامه مطبوعاتی ارگ آمده است که جلسهٔ مشترک در رابطه به برگزاری انتخابات آیندهٔ ریاست جمهوری، باحضور اعضای کمیسیون مستقل انتخابات، جامعهٔ جهانی و حکومت در ارگ دایر گردیده است.
منبع می‌نویسند که در این جلسه، روی تدارکات بودجه برای استفاده از تکنالوژی در انتخابات آینده بحث شد.
سپس رئیس‌جمهور کشور هدایت داد که بدون تعلل، کارهای تدارکاتی آغاز گردد و کمیسیون تدارکات ملی، مراحل تهیهٔ لوازم تخنیکی مورد نیاز را تکمیل نماید.
به نقل از خبرنامه؛ پس از بحث‌های مفصل در مورد بودجهٔ انتخابات، وزارت مالیه تعهد نموده است که در هماهنگی با جامعهٔ جهانی، جزئیات بودجهٔ کمیسیون مستقل انتخابات، نهایی می‌گردد که در آن، اندازه بودجهٔ دولت و کمک‌های مالی جامعهٔ جهانی مشخص خواهد شد.
غنی ضمن تأکید بر شفافیت انتخابات، عدم مداخلهٔ مسئولین دولتی در پروسه انتخابات و نظارت دقیق از پروسهٔ انتخابات را به منظور تأمین شفافیت آن، مهم خوانده است و از جامعهٔ جهانی و نهادهای انتخاباتی با تأکید خواسته است که از هر مرحلهٔ پروسهٔ انتخابات، نظارت دقیق انجام دهند.



## دریځ

### د دوحې بین‌الافغاني غونډې ته څوک ورځي او څه پایله به ولري؟

ټاکل شوې چې د روانې جولای میاشتې په اوومه او اتمه په دوحه کې د المان او قطر په کوربه‌توب د بین‌الافغاني مذاکراتو غونډه جوړه شي. لا هم د غونډې د وخت د بدلون شونتیا شته، خو د دې غونډې اصلي هدف څه دی؟ څوک وربلل شوي او دا غونډه به له سولې سره څه مرسته وکړي؟
دې غونډې ته له کابل څخه شاوخوا شپېته کسان وربلل شوي چې پکې مهم سیاسي کسان نه ښکاري. غونډې ته د ځینو کم پېژندل شوو کسانو تر څنګ، یوه برخه هغه کسان هم وربلل شوي چې د جرمني تابعیت لري او یا هم د مدني ټولنې په نوم په کابل کې د سفارتونو پروژې مخکې وړي. په غونډه کې د پخواني ولسمشر په ګډون، مهم سیاسي مشران نشته او په دې سره د دې غونډې ارزښت کمرنګه شوی دی. کله چې د افغانستان د سولې او ثبات په تړاو غونډه کېږي، نو باید مهم او نفوذ لرونکي کسان ور وغوښتل شي چې هلته د افغانستان د خلکو او یا لږ تر لږه د افغانستان د خلکو د یوې کتلې په استازیتوب خبرې وکړي. دا هم ډېره مهمه ده چې له طالبانو سره په بین‌الافغاني خبرو کې د ولس د استازو تر څنګ، د سیاسي ګوندونو او هغو ډلو استازي وي چې له طالبانو سره ستونزې لري، اختلاف لري، جګړه یې کړې، طالبان یې وژلي او طالبانو دوی وژلي دي. د افغانستان داخلي ستونزه باید د متخاصمو ډلو ترمنځ حل شي او له یو څو هغو مدني فعالینو سره خبرې چې د سفارتونو په پیسو چلېږي، د افغانستان ستونزه نه شي حل کېدلی.
دې غونډې ته دولتي کسان هم وربلل شوي، خو په بلنلیک کې ورته لیکل شوي چې دوی به د دولت په استازیتوب ګډون نه کوي، بلکې هلته به خپل شخصي نظر وایي. کله چې په غونډه کې دولتي استازي په دولتي حیثیت ګډون نه کوي، دا نو بیا همغسې غونډې دي چې په مسکو کې وشوې. آن د مسکو تر غونډو کمزورې او بې ګټې ځکه دي چې کوم مهم سیاسي مشر هم پکې برخه نه اخلي. له همدې امله دا غونډه سر له اوسه بې ګټې او بې مانا ښکاري چې موږ د سولې له اصلي مسیر څخه اړوي. موږ د جرمني په بن کې د افغانستان په تړاو په ۲۰۰۱ ز کال کې د شوې غونډې د ناسم جوړښت او پرېکړو بیه لا هم پرې کوو، خو که جرمني له قطر سره په ګډه له هغو تېروتنو زده کړې نه کوي او بیا لویې تېروتنې کوي، نو بیا نه یوازې د رښتینې سولې چانس کمېږي، بلکې ستونزې به زیاتیږي.
د یوې رښتینې بین‌الافغاني سولې لپاره داسې غونډې ته اړتیا ده چې د افغانستان د ټولو خلکو او ډلو استازي پکې برخه واخلي. د یوې داسې غونډې اړتیا ده چې د ټولو ګوندونو استازي پکې وي، مخالفین او موافقین ټول پکې را ټول شي. داسې یوه غونډه چې قومي، سمتي او ټولو مسایلو ته پکې پام شوی وي او د افغانانو ترمنځ یوه رښتینې ډیالوګ او سولې ته لاره برابره کړي. د څو سفارتي مدني فعالینو، دوه تابعیته لرونکو او کمزورو کسانو په ګډون سره نه رښتینې بین‌الافغاني غونډه کېدای شي او نه هم دا چاره له سولې او ثبات سره مرسته کوي.

# بیا هم د ټاکنو په باب پر ځای پاتې اندېښنې!

لیکنه: ف. فایض

د ملي یووالي په حکومت کې ټاکنو خپل اعتبار بالکل بایلود. لومړی خو د ولسي جرګې ټاکنې نږدې درې کاله وځنډېدې. که د دغه ځنډ علت د هېواد د امنیتي حالاتو خرابي وه؛ نو پوښتنه دا ده چې ایا اوس حالات ښه شوي؟ که ښه شوي وي بیا نو د ټاکنو کمېسیون ولې اعلان کوي چې د انتخاباتو ډېر مرکزونه به د ولسمشریزو انتخاباتو پر مهال هم بند پاتې وي. ایا د هغو سیمو خلک د رایې ورکولو حق نه لري؟ که یې لري، نو بیا ولې یاد مرکزونه بند پاتې کېږي او که دلیل دا وي چې هغوی دې هغو مرکزونو ته ولاړ شي چې هلته رایه ورکول کېږي، نو یو خو دا په باران پسې د پټي د ګرځولو په مانا دي او بله دا چې زموږ خویندې-میندې او بوډاګان به چې هغوی هم د رایې ورکولو حق لري، څه کوي. بس دا خو هسې په لوټه د لور د تېره کولو مانا لري. که دلیل د بودجې نشتوالی و، نو اوس له کومه دا دې ډالرو باران وشو؟
همدارنګه دا دې اوس د ولسمشرۍ انتخابات څو ځله وځنډول شول او بیا یې دا دي د ولایتي شوراګانو انتخابات له ولسمشرۍ انتخاباتو نه جلا کړل او د غزني ولایت د انتخاباتو برخلیک هم لا نه دی معلوم. که خبره دا وي چې د ارګ مېشتو د اقتدار دوره تکرار شي، بیا دې نه د ملت پیسې بېځایه لګوي او نه دې یو ځل بیا لکه د ولسي جرګې د انتخاباتو له خلکو نه قرباني اخلي. ایا دا سر تر پایه په فساد او معامله ګرۍ کې ککړ حکومت د دې وړتیا لري چې یو افغان دې هم د هغې لپاره ووژل شي؟
حکومت هم ګوري چې هسې د مخالفت غږونه خو له دې او هغه لوري را پورته کېږي؛ خو د عمل په ډګر کې داسې څوک نشته چې د اختلاف لپاره له خپل هغه قانوني حق نه هم ګټه واخلي، چې اساسي قانون ورکړی دی. په تېره روژه کې د اپوزېسیون له خوا دا تور پورې کېده چې تر کوچني اختر وروسته به دوی لارو کوڅو ته را وځي، خو روژه هم تېره شوه، اختر هم تېر شو؛ خو د مخالفت یو غږ هم چا وانه ورېد. کوم مخالف غږ هم چې پورته کېږي، هسې په ځان پورې ملنډې وهل دي. دا خو شو د انتخاباتو په باب د اندېښنو یو اړخ؛ خو بل اړخ یې بیا د انتخاباتو شفافیت دی. له بده مرغه تر اوسه زموږ د انتخاباتو لمن د تقلب له چټلۍ پاکه نه شوه، هر چا تر خپل وس پورې د تقلب هڅه کړې ده. چا پکې مېږې او وزې وڅرولې او چا پکې نورې لارې چارې خپلې کړې او هغه د انتخاباتو د کمېسیون منسوبینو چې د خپلو جېبونو د ډکولو لپاره څه وکړل، همدا ثبوت یې بس دی چې په همدې جرم له کاره ګوښه کړای شول او دوسیې یې لویې څارنوالۍ ته وسپارل شوې، خو تر اوسه یې لا سر و بر نه دی معلوم چې څه به کېږي.
دا اوس چې د انتخاباتو کمېسیون کومې دمبورې غږوي، پخپله د انتخاباتو ناظر بنسټونه پرې نیوکې کوي او د هغوی د انتقاد غږ وخت پر وخت پورته کېږي چې د رسنیو او ټولنیزو شبکو له لارې انعکاس مومي. له دې نه معلومېږي چې حکومت ټینګ هوډ کړی چې له تقلبه ډک انتخابات به کوي او د ارګ نوماند به خامخا بریالی کوي.
له بده مرغه په ۲۰۱۴ ز کال کې هم موږ داسې نوماند نه درلود چې د هېواد دا ټوپان اخیستې بېړۍ د نجات ساحل ته ورسولای شي، بیا یې چې لا د ملي یووالي په نامه دوه سرې حکومت هم را منځته کړ. هغه مهال هم هېڅ داسې قوت پیدا نه شو چې د هېواد د اساسي قانون له حریمه دفاع وکړي؛ ځکه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري راغی او دواړه مخکښ نوماندان یې پر یوه دسترخوان کښېنول. هغه مهال نه اشرف غني د اساسي قانون پروا وکړه، نه ډاکټر عبدالله او نه نورو نوماندانو د اعتراض غږ پورته کړ؛ ځکه په حقیقت کې دغه یوه هم په ولس کې ځای نه درلود. زموږ په انتخاباتو کې یوه غلطه نسخه چې بیا بیا تکرارېږي؛ هغه د انتخاباتو قومي کول دي. یو دم داسې غږ پورته کړي چې خلک وړ او نا وړ ونه ګوري، دا ونه سنجوي چې دغه جناب د ولسمشرۍ وړتیا لري او که نه. وایي، دغه جناب ته رایه ورکړئ چې پښتون دی، هغه جناب ته رایه ورکړئ چې تاجک دی؛ بس هر څوک په خپل قومي نوماند پسې روان وي، خو زه پوښتنه کوم چې دغه اشرف غني چې په همدې نامه یې ان طالبان تبر ایستل، نور ملت خو لا پر ځای پرېږده چې هغو پښتنو ته یې څه وکړل چې د هغوی په رایه تر ارګه پورې ورسېد او هغه خلیلي او محقق زموږ هزاره ورونو ته څه وکړل او دوستم زموږ ازبکو هېوادوالو ته څه وکړل او ډاکټر عبدالله چې یوه ورځ ځان پښتون کړي او بله ورځ تاجک او دغسې نورو.
پر دوی همغه د قومي دلالانو اصطلاح ډېر ښه صدق کوي، زه خو وایم چې ملت هم لږ پر دې غور وکړي چې هلته خو د اسلام ستر پیغمبر (ص) فرمایي: «مومن له یوې سوړې نه دوه ځله نه چیچل کېږي». دا د قومیت سوړه خو هغه سوړه ده چې زموږ ملت ترېنه بیا بیا وچیچل شو، ایا نور هغه وخت نه دی را رسېدلی چې نور ملت هم خپل مسوولیت درک کړي؟ دا به هم له انصافه لرې وي چې سرې ټوله ملامتي پر نوماندانو ور واچوي او ملت کاملاً بریالی وګڼي. نوماندان خو هر یو نه کامیابېږي، هغه د عبدالرحمان بابا خبره:

یو پاچا وي چې لښکر ورپسې درومي
هسې نه چې هر سړي پسې لښکر دی

موږ په نوماندانو کې هم ډېرې پېژنو، چې څوک د یوې مستقلې ملي ارادې خاوند دی او څوک په چا پورې تړلی او د چا پر پیسو ځان ته کمپاین کوي، حال دا چې دی هم پوهېږي چې زه د ګټلو یو یا دوه سلنه چانس هم نه لرم، نو راځه که په همدې وخت کې مې خپل جیبونه له کوم لوري ډک کړل، ډک کړل او که نه پاتې شوم.
په داسې حال کې چې د دې کرښو پر لیکلو بوخت وم، د یوې ورځپاڼې په پرونۍ ګڼه کې مې یو عجیب خبر ولوست او هغه دا چې د ډاکټر عبدالله او حنیف اتمر د ټیمونو تر منځ د ادغام خبرې روانې دي. ښایي دغه خبرې هم د هغې اندېښنې زېږنده وي چې که ولسمشر غني ته سره یو نه شي، ښایي دواړه انتخابات بایلي؛ خو زه وایم که چېرې د دې اندېښنې اساسي چاره ونه شي، دغسې هلې ځلې به هسې پر شګو د دریاب د بندولو مانا ولري؛ ځکه دلته خو شفاف انتخابات نه کېږي، چې رښتیا هم چا چې ډېرې رایې وګټلې هغه به ګټونکی وي، دلته خو چې چا ډېر تقلب وکړای شو، هغه ګټونکی دی او د تقلب امکانات خو تر هر چا زیات له ولسمشر غني سره دي؛ ځکه د انتخاباتو د کمېسیون په شمول، ټول حکومت دربست د ده په خدمت کې دی. له وزیره نیولې تر والي او ولسوال پورې ټول د ده په خدمت کې دي. دا کومې مقررۍ چې وشوې او ښایي نورې هم وشي او په حکومتي وسایلو چې کوم کمپاینونه وشول، دا ټول د دې لپاره چې باید رایه بېځایه نه شي. د افغانستان درې نیم تر څلورو لکو پورې امنیتي منسوبین، دا د معارف منسوبین چې ټول مکتبونه او پوهنتونونه پکې راځي، دا حکومتي مامورین چې د دوی پنځوس سلنه هم ولسمشر ته رایه ورکړي، دی پرې کامیاب دی؛ ځکه هغه پاتې پنځوس سلنه خو پر نورو ټولو نوماندانو وېشل کېږي.
زه خپله دا خبره بیا هم تکراروم چې موږ اصلي نوماندان لږ لرو، خو هسې په اصطلاح په بیستو کې راغلي کسان نوماندان شوي دي. که فرض کړو په هغوی کې هم لکه پدرام غونډې سړی رایه وګټي چې اصلاً یې نه شي ګټلای، نو دا به د دې ملت بدبختي وي.

## ټرمپ: له افغانستانه تر وتلو وروسته په دغه هېواد کې قوي استخبارات پرېږدو



د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، امریکا به له افغانستانه د خپلو سرتېرو د وتلو تر هوکړې وروسته هم په دغه هېواد کې «ډېر قوي استخباراتي حضور» ولري.
ټرمپ له فکس نیوز ټلوېزیون سره په تازه مرکه کې ویلي، غواړي چې له افغانستان څخه خپل سرتېري وباسي، خو په خبره یې چې د امریکایي سرتېرو د نشتوالي په صورت کې اندېښنه لري چې له افغانستانه د تروریستي بریدونو د تر سره کولو د مرکز په توګه استفاده ونه شي.
نوموړي زیاته کړې چې امریکایي جنرالان په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو پر پاتې کېدو سره په ټینګار، د امریکا پر ځای په افغانستان کې د تروریستانو پر مرکزونو بریدونو ته لومړیتوب ورکوي.
ټرمپ په ښکاره ټکو ویلي، که امریکایي سرتېري له افغانستان څخه ووځي، واشنګټن به له هغې وروسته هم په افغانستان کې «قوي استخباراتي حضور» ولري.
دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ تېره اونۍ له «ټایمز» ورځپاڼې سره هم په مرکه کې ویلي وو، چې په افغانستان کې به د خپلو سرتېرو شمېر اتو زرو ته راټیټ کړي.
امریکا اوسمهال د ناټو په چوکاټ کې په افغانستان کې نهه زره سرتېري لري چې د ماموریت عمده برخه یې افغان سرتېرو ته سلا مشورې ورکول او روزنه ده.
ټرمپ داسې مهال دغه څرګندونې کوي، چې ټاکل شوې د افغان سولې په تړاو د جولای په اوومه او اتمه په دوحه کې بین‌الافغاني مذاکرات وشي.
بلخوا د طالب او امریکایي پلاوو ترمنځ د بندو دروازو تر شا اووم پړاو خبرې هم روانې دي، خو په اړه یې زیات جزیات نه دي په ډاګه شوي.
په دغو خبرو کې له افغانستانه د امریکایي سرتېرو وتل، افغان خاوره د نورو هېوادونو پر ضد نه کارول، بین‌الافغاني خبرې او د اوربند مسئله شامله ده.

## په تېره جون میاشت کې په افغانستان کې نږدې ۱۵۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



په تېره جون میاشت کې د وړمې هغې په پرتله په افغانستان کې د بریدونو او مرګ ژوبلې د شمېر په شاوخوا ۳۵ سلنه کموالي سره، نږدې ۱۵۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.
دا په داسې حال کې ده چې د سولې د هڅو په دوام، تېره میاشت په مسکو کې د سولې په تړاو د افغان سیاستوالو او طالبانو په ګډون غونډه جوړه شوه، په پاکستان کې هم افغان سیاستوالو په یوه ناسته کې د سولې په تړاو له پاکستاني چارواکو سره خبرې وکړې، ولسمشر اشرف غني هم پاکستان ته ولاړ او له پاکستاني چارواکو سره د سولې او نورو مسایلو په اړه وغږېد او له تېرو دریو ورځو راهیسې د سولې په تړاو په قطر کې د امریکا او طالب استازو ترمنځ خبرې روانې دي.
د پژواک خبري اژانس د راپور له مخې، په وړمه مې میاشت کې په افغانستان کې څه باندې ۲۳۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه، خو په تېره (جون) میاشت کې دغه شمېر نږدې ۱۵۰۰ ته رالوېدلی دی.
د پژواک خپاره شوي معلومات ښیي چې د روان میلادي کال په تېره (مې) میاشت کې د هېواد له ۳٤ ولایتونو څخه په ۳۰ کې بریدونه شوي چې له امله یې ۸۵۹ کسان وژل شوي او ٦۳۲ تنه ټپیان دي.
دغه مرګ ژوبله په ۱۳۲ بېلابېلو بریدونو کې چې د وړمې اپرېل میاشتې په پرتله ۳۷ سلنه کم شوي، اوښتې ده.
له یادو بریدونو ٤۲ طالبانو، ۳۹ ناپېژاندو وسله والو، ۳۸ دولتي ځواکونو او ۱۳ په افغانستان کې مېشتو بهرنیو ځواکونو کړي دي.
تر لاسه شوي معلومات ښیي چې تېره میاشت له هرو ۱۵ کسانو لسو ته په مخامخ نښتو، دوو ته په هوایي بریدونو او یوه یوه ته په چاودنو، ځانمرګو او هدفي بریدونو کې مرګ ژوبله اوښتې ده.

# امریکایان د رواني جگړې د دوام په لټه کې

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

په داسې حال کې چې د قطر په دوحه کې د طالب خواه او امریکایي اړخ ترمنځ د افغان ـ امریکا جگړې د پای ته رسولو اړوند، اووم پړاو مذاکرات روان دي او دواړه لوري د خبرو له دوام او رامنځته شویو پرمختگونو خورا خوښ ښکاري؛ خو په یوه تازه مرکه کې امریکایي ولسمشر ټرمپ ویلي چې (له سولې وروسته په افغانستان کې قوي استخباراتي ډله پرېږدو)، نوموړي همدا راز زیاته کړې چې دوی به اجازه ور نه کړي چې سیمه او افغانستان د ترهگرو پر لابراتوار او تولید ځای بدل شي. ټرمپ ویلي چې د سرتېرو تر ایستلو وروسته به په افغانستان کې خورا پیاوړې استخباراتي ډله پرېږدي او دغه ډله به هر څه له نږدې څاري. د نوموړي په خبره، یاده استخباراتي ډله به تر هغې ډېره پیاوړې وي چې خلک یې اټکل کوي.

بلخواه طالبان د مذاکراتو په دې پړاو کې په دې لټه کې دي چې له امریکایانو د بهرنیو ځواکونو د وتلو او په همدې تړاو پر یوه مهالوېش د هوکړې غوڅ ځواب تر لاسه کړي.

اوس که امریکایان دا ځل له طالبانو سره کومې هوکړې ته ونه رسېږي، نو ښایي روانو مذاکراتو ته سخته ضربه ورسېږي او جگړې شدیدې شي.

په داسې یو گوډ او مات حال کې د امریکایانو له لوري د جگړې د دوام، بیا یرغل او متناقضو دریځونو شننه زموږ هغه منطق غښتلی کوي، چې امریکایان د جگړې دوام غواړي او که سوله کېږي هم، دوی د یوه ژر ماتېدونکي جوجاړي په تمه دي.

ځکه دوی هغه سوله چې پر امریکایي شرایطو(گټو) او رویه (تسلیمی) نه وي ولاړه، لکه په نږد تاریخ کې چې عراق یې ترخه بېلگه کېدای شي، ورته د منلو نه ده.

دوی همدا اوس د سولې او جگړې په دغه نازکه کرښه کې داعشي ځوزي- ماځوزي همداسې یوې ډرامې ته غځوي او د دې ترڅنگ یې لکه د عراقي سني اشایرو په شان د (خوست ساتندویانو، په شمال کې د مرگ ډله، شجاعي، قریشي، نویدک، علیپور، صفر یو او دوه ) په نومونو د افغانانو د وژلو لپاره لنډغر او کرایي اجرتي مزدور قاتلان همداسې یوې گډې وډې ورځې ته ساتلي دي.

د دې ترڅنگ، دوی (امریکایان) په بین‌الافغاني اړخ کې له یوې خواه سوله تر ټاکنو مهمه گڼي، لکه په کابل کې د امریکا سفیر جان بس چې ویلي: «سوله او ټاکنې دواړه مهم دي، خو اوسمهال سوله لومړیتوب لري». د نوموړي په خبره، ټول اړخونه پر دې باور دي چې تر ټاکنو مخکې دې د سولې یوه واضح هوکړه رامنځ ته شي او په دې توگه دې د وژنو او جگړو لړۍ پای ته ورسول شي. جان بس داسې مهال دغه څرگندونې کوي چې تر دې وړاندې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم تر ټاکنو مخکې سوله مهمه بللې وه او بل لور ته د افغان سولې او سویلي اسیا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر سیاسي استازې الیس ویلز څه موده وړاندې د ټاکنو کمېسیون ته ځي او کمیشنرانو ته دنده ورکوي چې ژر تر ژره دې ټاکنو ته چمتووالی ونیسي.

دا او دېته ورته د جگړې د دوام خبرې، د سولې خلاف پروژو لکه ولسمشریزو ټاکنو ملاتړ، د سولې اړوند د ژمن او واحد دریځ نه لرل، د سوله پالو هڅو گواښل، پر جگړه مارو طرحو تاکید او په ټوله کې د افغان حکومت پر رهبرۍ او اډانه کې پر سوله دښمنو کړیو د فشار نه راوستل، هغه موضوعات دي چې د سولې او امن هر ډول مثبت جدجهدونه له خنډ او ځنډ سره مخ کوي. د امریکا ژمنو او دریځونو په دوه مخیتوب دلالت کړی او ډېربدونکي تناقضات د سولې هر ډول ضمانت له بې باورۍ سره مخ کوي.

دا ځکه نور هغه مغرضانه هڅې بې مانا دي چې د امریکایانو ماتې ته د ختهو پزه جوړه کړي، روانه جگړه چې کله خپله د امریکایانو په اصطلاح د دوی د تاریخ تر ټولو اوږده جگړه ده، نو بیا بین‌الافغانیوالی یې مهال دی. همدارنگه د طالب ترهگر بللو کیسې او نور داسې خندوونکي حماقت ته ورته دي چې نړۍ څه چې د امریکا ملاتړو او ملگرو هېوادونو ته یې هم د منلو نه ښکاري او یوازې احمقانو ته د ځان غولولو وړ دي.

پر همدې بنسټ زموږ غوښتنه د افغان ـ امریکا جگړې او افغان سولې متضادو او موافقو اړخونو ته دا ده، چې فشار راولي، څو د امریکا نظامي شتون پای ته ورسېږي او افغانستان پرېږدي، څو یوازې د افغانانو کور او د دوی په نړیوال یون کې مسوول او گډ ملگری پاتې شي. افغانانو ته هېڅکله او په هېڅ ډول په هېڅ پلمه د بهرنیانو شتون د زغملو او منلو وړ نه دی، نور د بهرنیانو د وتلو غږ یوازې د طالب غوښتنه نه؛ بلکې دا اوس پر یو ملي او ولسي غبرگون اوښتې چې لکه د هر تاریخ په هر بل پړاو کې چې د بهرنیانو شړل د هر افغان اسلامي، ملي او تاریخي داعیه ده.

## د وتلو له ژمنو سره همماله؛ امریکایي ځواکونه د بگرام پوځي اډې پر پراخولو بوخت دي



داسې مهال چې امریکایي ځواکونه له افغانستانه د بشپړو وتلو خبره کوي، خو په بگرام کې یې د لا ډېرو ځمکو په اخیستلو پیل کړی او غواړي بگرام پوځي اډه پراخه کړي. اوسمهال په قطر کې د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ مخامخ خبرې روانې دي. طالبان ټینگار کوي چې امریکایي ځواکونه دې له افغانستانه ووځي او امریکا هم ښایي د دې خبرې منلو ته تیاره وي، خو په ورته وخت کې امریکایان غواړي چې په بگرام کې خپله نظامي اډه پراخه کړي.

د پروان د ولایتي شورا غړي وایي چې د دغه ولایت په بگرام ولسوالۍ کې امریکایي ځواکونو د خلکو لسگونه جریبه ځمکه لاندې کړې ده او غواړي سلگونه جریبه ځمکه واخلي او دغه اډه پراخه کړي. د هغه په خبره، داسې راپورونه ورته رسېدلي چې امریکا د خپلې اډې او تاسیساتو د پراختیا په لټه کې ده. بگرام په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو تر ټولوستره نظامي اډه ده، چې پراخولو یې خلکو ته اندېښنې پیدا کړې دي.

د ولایتي شورا غړی عصمت الله محمدي وایي، دغه پوځي مرکز له پخوا څخه څو چنده پراخ شوی او د خلکو کرنیزې ځمکې یې ور نیولې دي. محمدي وایي: ((مخکې دا میدان کوچنی و. بیا په څو پړاوونو کې دوی له خلکو ځمکې واخیستې، یا یې په زور ترې ونیوې، دغه میدان یې پراخ کړ. خو اوس دوی عملي کار پیل کړی دی. همدا اوس یې کار روان دی، له خلکو یې ځمکې نیولې دي، کار کوي او میدان نور هم لویوي)).

بلخوا ویل کېږي چې په بگرام کې مېشتو امریکایي ځواکونو په دې وروستیو کې د ۵۰۰ او ۷۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت، دوه نوي قراردادونه لاسلیک کړي دي. بلخوا خلک پر دې باور دي چې د دغه ډول اقداماتو په تر سره کولو سره امریکا ښیي چې دوی له افغانستانه د وتلو پلان نه لري.

د ولسي جرگې غړي وایي، د بگرام پوځي اډې پراخېدل ښیي چې متحده ایالات له افغانستانه په بشپړ ډول نه وځي او په افغانستان کې د اوږدمهاله پاتې کېدو پلان لري.

د ولسي جرگې غړی عطا محمد دهقانپور وایي، امریکا په ظاهره د وتلو خبره کوي. په اصل کې دوی په افغانستان کې د اوږدمهاله حضور پلان لري او د همدې لپاره خپله نظامي اډه پراخوي. دهقانپور وایي: ((دا چې طالبان وایي دوی د امریکایي ځواکونو وتل غواړي، نو دا خو سل په سله امکان نه لري چې د طالبانو خبره دې ومنل شي)).

د پروان د ولایتي شورا غړی ښاغلی محمدي هم وایي، چې امریکایان به له طالبانو سره رښتیني نه وي. د نوموړي په خبره، که امریکایي ځواکونه په رښتیا له افغانستانه د وتلو پلان لري، نو بیا ولې د دې هڅه کوي چې په بگرام کې خپله نظامي اډه پراخه کړي.

بل پلو پرون بیا د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، چې که امریکایي ځواکونه له افغانستانه وځي، نو یوه پیاوړې استخباراتي ډله به په افغانستان کې پاتې کېږي. ده افغانستان د ترهگرو لابراتوار بللی و او ټینگار یې کړی، چې د دغو ډلو د څارلو لپاره به د خلکو تر اټکل خورا ډېر پیاوړي استخباراتي ټیمونه په افغانستان کې پاتې کېږي.

د دې تر څنگ، د بگرام پوځي اډې د پراخېدو لپاره دغه هڅې داسې مهال دي، چې ویل کېږي امریکایان هڅه کوي چې طالبان راضي کړي، څو په افغانستان کې د هغوی د بگرام او شورابک پوځي اډې ومني.

## د اټومي انرژۍ نړیواله اداره: د ایران د یورانیمو کچه له ټاکلې کچې لوړه شوې ده

د اټومي انرژۍ نړیوالې ادارې د ایران هغه ادعا تایید کړې، چې د دغه هېواد د غني شویو یورانیمو کچه د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون له مخې تر ټاکل شوې کچې اوښتې ده.

دا په داسې حال کې ده چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمدجواد ظریف د دوشنبې په ورځ وویل، د دغه هېواد د یورانیمو کچه د ایران او نړۍ د قدرتونو ترمنځ د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون له مخې له ټاکل شوې کچې اوښتې ده.

نوموړي په تهران کې په یوه غونډه کې وویل، د اټومي تړون پر اساس د غني شویو یورانیمو د زېرمو زیاتېدل د ایران حق دی.

هغه دغه راز ویلي، اروپایي هېوادونه ونه توانېدل څو هغه ژمنې پوره کړي، کومې چې په شوي اټومي تړون کې یې د ایران د گټو د خوندیتوب په اړه کړې وې.

د دغه تړون پر بنسټ، د ایران د غني شویو یورانیمو زېرمه باید تر ۳۰۰ کیلوگرامو زیاته نه شي.

په ورته وخت کې د ایران دغه اقدام په نړیواله کچه غبرگونونه هم راپارولي دي.

د ملگرو ملتونو د عمومي منشي انتونیو گوترېش ویاند سټیفن دوجاریک په یوه خبري غونډه کې ویلي، گوترېش د ایران د دغه اقدام په خاطر ډېر اندېښمن دی.

هغه زیاته کړې چې گوترېش ایران هڅوي، څو له اټومي تړون سره اړوندې ټولې ژمنې عملي کړي.

له بلې خوا له ایران سره د شوي اټومي تړون ښکېل لوري هم هغو ننگونو ته د لاسرسي لپاره هڅې کوي، چې ایران ورسره مخامخ دی. له همدې کبله څو ورځې وړاندې د برېټانیا، جرمني، چین، روسیې او فرانسې استازو د ایران له استازي سره په ویانا کې کتلي او په دې تړاو یې خبرې کړې دي.

دوی د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون د شرایطو پر تطبیق بحث کړی چې د ایران د یورانیمو غني کول او ذخیره کول محدودوي.

د دغو شرایطو له مخې، د ځینو نړیوالو بندیزونو د لرې کېدو په بدل کې د ایران اټومي ظرفیتونه محدود کړای شوي وو.



د ایران د غني شویو یورانیمو په تړاو دا څرگندونې داسې مهال دي، چې وروسته له هغې چې په ۲۰۱۸ ز کال کې امریکا له یاد اټومي تړونه ووته، پر ایران یې نوي بندیزونه ولگول او دغه هېواد هم خبرداری ورکړی چې د یورانیمو د غني کولو کچه به بېرته لوړه کړي.

## د کتـــاب خبـري

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډېوډ شوارتز
ژباړن: میـراحمد یـاد

### دیارلسم څپرکی
### څنګه د رهبر په څېر فکر وکړو؟




**آیا زه پرمختګ غوښتونکی فکر لرم؟**
**د کنټرول لېست**

الف. د خپل کار په اړه پرمختګ غوښتونکی فکر لرم؟
١. کار مې کله له دې زاویې ارزولای چې څنګه یې ښه کولای شم؟
٢. په مناسب فرصت کې مې شرکت، خلک او توکې ستایلې؟
٣. آیا شپږ- اوه میاشتې پخوا حالت ته په کتو مې اوس د خپلو چارو کمیت، کیفیت او ګټورتیا زیاته کړې؟
٤. زما شخصیت نورو همکارانو او تر لاس لاندې مامورینو ته یوه ښه الګو کېدای شي؟

ب. د کورنۍ په اړه پرمختګ غوښتونکی فکر کوم؟
١. آیا کورنۍ مې تر دریو یا شپږو میاشتو پخوا اوس ډېره خوشاله ده؟
٢. د خپلې کورنۍ د ودې لپاره پر پلان سم روان یم؟
٣. د کورنۍ غړي مې له کوره بهر چارې او فعالیتونه لري؟
٤. خپلو بچو ته د پرمختللي انسان یوه بېلګه یم؟

ج. د ځان په اړه پرمختګ غوښتونکی فکر کوم؟
١. آیا ځان ته په صداقت وایم چې تر دریو یا شپږو میاشتو پخوا اوس ارزښتمن انسان یم؟
٢. آیا له نورو سره د خپل ارزښت زیاتولو پلان عملي کوم؟
٣. د راتلونکو پنځو کالو لپاره پرمختللې موخې لرم؟
٤. په ټولو ادارو او ټولنو کې ګټور او اغېزناک انسان یم؟

د. د خپل ژوند د چاپېریال په اړه پرمختګ غوښتونکی فکر لرم؟
١. تېرو شپږو میاشتو کې مې داسې څه کړي چې زما د چاپېریال د پرمختګ لامل شي؟
٢. ایا د نیوکو او ګیلو پر ځای مې دا هڅه کړې چې د خپل چاپېریال په پرمختګ کې برخه واخلم او هڅې وکړم؟
٣. ایا خپل چاپېریال کې مې د ارزښتمن بدلون راوړلو لپاره طرحه لرلې ده؟
٤. ایا له ګاونډیانو او نورو ښاریانو سره په خبرو کې مې ښه نظر ورکړی دی؟

د رهبرۍ څلورم اصل: ځان ته د یوازیتوب لپاره وخت ورکړئ.
ځان ته د یوازیتوب لپاره وخت ورکړئ او له خپل ذهني قوته کار واخلئ.
رهبران عموماً بوخت خلک وي. رهبري انسان په ډېرو مسایلو او موضوعاتو کې راګېروي، خو بیا هم دا خلک ډېره وخت یوازې تېروي. په دې وخت کې یوازې خپل فکرونه کوي.
د دیني رهبرانو ژوند وګورئ، زیاتره وخت یوازې وو. موسی علیه السلام ډېر وخت یوازې و. په همدې توګه عیسی علیه السلام، محمد صلی الله علیه وسلم او د نړۍ نور مشهور شخصیتونه لکه کنفسیوس، بودا، ګاندي او نورو ډېر وخت له دنیوي چارو لرې، یوازې تېر کړی دی.
د نړۍ سیاسي رهبران که ښه وو، که بد، په یوازې یوازیتوب کې یې خپل فکري مسیر برابر کړی دی. جالبه پوښتنه دا ده چې که فرانکلین روز ولټ معلول شوی او ډېر وخت په بستره کې پروت نه وی، نو د رهبرۍ لپاره یې دا فوق العاده وړتیاوې پیدا کولای شوې که نه؟
هیري ټرومین په ماشومتوب او له هغې را وروسته ډېر وخت، د میسوري په یوه کرنیزه څمکه کې اوسېده.
هټلر هم که میاشتې میاشتې په زندان کې یوازې نه وی تېرې کړې، نو (زما جګړه) کتاب لیکلو ته به یې وخت نه وی پیدا کړی.
د کمونیزم ډېرو رهبرانو لکه لنین، ستالین، مارکس او نورو هم ډېر وخت په زندان کې تېر کړی دی، دوی هلته د خپل راتلونکي ژوند او چارو پلان ته فرصت پیدا کړ.
لوی پوهنتونونه په اونۍ کې له استادانو یوازې پنځه ساعته درس غواړي، دا ځکه چې استادان فکر ته ډېر وخت ولري.
له زیاتره لویو کاروباري مدیرانو هره ورځ د لسګونو مرستیالانو او سکرترانو کړۍ راتاو وي، خو که موږ د دوی اونیز او میاشتنی کاري مهالوېش وګورو، دوی ځانته د فکر لپاره هم وخت بیل کړی وي.
خبره دا ده چې په هره برخه کې بریالي خلک ځان ته د فکر لپاره وخت بېلوي. رهبران په یوازیتوب کې د مسائلو ترمنځ اړیکې پیدا کوي چې حللارې پیدا کړي، پلان جوړ کړي او خپل د تفکر لوړو ته ورسېږي.
زیاتره خلک په رهبرۍ کې خپله د نوښت وړتیا نه شي کارولای، ځکه دوی له ځان پرته نور په هر څه کې له هر چا سره مشوره کوي.
دا خلک خپل یوازیتوب ختموي. هر وخت یې له ځانه ډله چاپېره کړې وي. دفتر کې یوازیتوب نه شي زغملای، هسې په نورو خلکو ګرځي او وخت ورسره ضایع کوي. د داسې خلکو مېلمانه ډېر زیات وي، بې خبرو سات پرې نه تېرېږي، په ډېرو خبرو او غیبت مئین وي.

دوام لري...

# مرکب اغېز

اکسوس کتابپلورنځی

ښه ده چې د مرکب اغېز په اړه د کتاب له متنه درته د دریو ملګرو کیسه وکړم: (دری داسې ملګري فرض کړئ چې له ماشومتوبه سره رالوی شوي دي. په یوه کوڅه کې اوسېږي، یو ډول خویونه لري او د هره یوه کلنی عاید نږدې ۱۵ زره ډالره دی. دریو واړو ودونه کړي، وزن او روغتیا یې طبیعي دي او تر واده وروسته چاغېدو ته یوڅه اندېښمن دي.
لومړی ملګری لېري نومېږي، دی خپل ورځني کارونه کوي، ژوند یې ښه دی یا خپل ژوند ښه ورته ښکارېږي، خو ځیني وخت زړه خوري چې هېڅ شی نه بدلېږي او هېڅ بدلون نه راځي.
دویم ملګری سکاټ نومېږي، ده څه واړه او ظاهراً بې ارزښته مثبت بدلونونه پیل کړي دي، دی هر شپه لس مخه مطالعه کوي، هره ورځ چې کار ته ځي، پر لاره نیم ساعت یو غږیز فایل اوري، زده کړه ترې کوي او الهام ترې اخلي. سکاټ په خپل ژوند کې بدلون غواړي او د بدلون هڅه کوي؛ خو ډېر شور یې نه دی جوړ کړی او شور نه کوي. په وروستیو کې یې د بریا په مجله کې یو مقاله لوستې ده، له هغه یې یوه مفکوره اخیستې او اوس یې په خپل ژوند کې عملي کوي. دی غواړي چې هره ورځ د خپلو خوړو له پلان څخه ۱۲۵ کالورۍ کمې کړي. سره له دې چې دا دومره لویه موضوع نه ده، دا کمی په خوړو کې د عادي بدلون له امله رامنځ ته کېدای شي. دا واړه کارونه هر وخت کېدای شي، د دې ترڅنګ یې د ورځې ۲۰۰ ګامه مزل هم پیل کړی دی، دا دومره لوی اقدامات نه دي چې ګڼې لوی زړه ته به اړتیا ولري، دا کارونه هرڅوک هر وخت کولای شي، خو سکاټ دغو کارونو ته ژمن دی. دی پوهېږي چې دا کارونه دومره کوچني او ساده نه دي، خو که یې ونه کړي، په ډېرې اسانۍ ستونزې ورته پیدا کولای شي.
درېیم ملګری براډ نومېږي، ده یو څه بد کارونه کړي دي، څه وخت مخکې یې یو ټلویزیون واخیست، د پخلي خپرونه په کې ګوري او پخلی ترې زده کوي، د دې ترڅنګ یې نشه هم پیل کړې ده، دا شیان ورته دومره ډېر نه ښکاري، یوازې یې د دې لپاره کوي چې خوند ترې واخلي.
په پنځمه میاشت په دوی دریو واړو کې کوم بدلونه نه ښکاري، سکاټ هر شپه هماغسې مطالعه کوي او هر ورځ چې کار ته ځي، غږیز فایل اوري. براډ له ژونده خوند اخلي او لږ کار کوي. لیرې هم پر همغو ورځنیو چارو اخته دی. دوی هر یو په خپله خوښ ژوند تېروي او د خپل ژوند یوه الګو لري؛ خو پنځه میاشتې دومره وخت نه دی چې د دوی په حالت کې د کومه وده یا ځوړ وښیي. د دوی دریو واړو په وزنونو کې دومره توپیر نه دی راغلی، په لسمه میاشت هم لوی بدلون نه ښکاري، خو اتلسمې میاشتې ته چې رسېږي، په دریو واړو کې واړه بدلونونه وینو. دا بدلونونه په ۲۵مه میاشت کې نور هم لوېږي، په ۲۷مه میاشت کې د دوی ترمنځ لوی توپیرونه ښکاري او ۳۱مه میاشت کې دا توپیرونه دومره لوی ښکاري چې هره څوک ورته ګوته په غاښ پاتې کېږي. دا وخت به براډ ډېر چاغ شوی وي، سکاټ به ښایسته او مناسب ښکاري، هغه د ورځې ۱۲۵ کلورۍ کمې کړې دي او په دې توګه یې ۱۵ کیلوګرامه وزن کم کړی دی».
د مرکب اغېز خارق العاده قوت همدا او همدومره ساده دی. څوک چې مرکب اغېز د ځان په ګټه کاروي، له هغو خلکو سره ډېر توپیر لري چې همدا اغېز د ځان پر وړاندې کاروي. په دغو دواړو ډلو خلکو کې لوی او د پام وړ بدلونونه وي، مرکب اغېز ډېر جالب دی، جادو ته ورته دی، تر ۳۱ میاشتو وروسته چې کوم سړي د مرکب اغېز مثبت ماهیت کارولی وي، داسې به وي لکه یو کس چې بریالیتوب ته نږدې شوی وي، لوی بریالیتوب اصلاً د هغو وړو او ځیرکو ټاکنو پایله ده چې انسان یې پرله پسې کوي.
یاد کتاب تازه اکسوس چاپ کړی، د کتاب لیکوال ډارن هارډي دی، پښتو ژباړه یې میراحمد یاد او بیاکتنه یې احمدشا ویاړ کړې، چې ټولټال د شپږو څپرکو په درلودو سره په ۲۲۱ مخونو کې راټول شوی دی.
مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت ترلاسه کړي.






## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | جواهر لعل نهرو | جواهر لعل نهرو | ۸۰؋ |
| ۲ | ډګر جنرال قهرمان عبدالوهاب وردګ پیلوټ | ډګر جنرال قهرمان عبدالوهاب وردګ پیلوټ | ۱۰۰؋ |
| ۳ | محراب الدین واکمن | محراب الدین واکمن | ۵۰؋ |
| ٤ | پوهندوی سید مسعود | پوهندوی سید مسعود | ۱۲۰؋ |
| ٥ | دکتر محمد قاسم دانش بختیاری | دکتر محمد قاسم دانش بختیاری | ۲۲۰؋ |
| ٦ | استاد ربانی زلمی | استاد ربانی زلمی | ۱۲۰؋ |
| ۷ | آموزشگاه دریچه موفقیت | آموزشگاه دریچه موفقیت | ۲۲۰؋ |
| ۸ | فضل الله رښتین | فضل الله رښتین | ۸۰؋ |
| ۹ | محمود مسلم | محمود مسلم | ۸۰؋ |
| ۱۰ | عبدالمقیم علیزی | عبدالمقیم علیزی | ۱۵۰؋ |
| ۱۱ | دکتر مصطفی زهرانی | دکتر مصطفی زهرانی | ۱۵۰؋ |
| ۱۲ | الحاج مبارز ځاپي | الحاج مبارز ځاپي | ۱۰۰؋ |
| ۱۳ | پوهیالي ضیا الرحمن راسخ | پوهیالي ضیا الرحمن راسخ | ۱۸۰؋ |
| ۱٤ | پوهاند محمد اسحق رازقی سوله دوست | پوهاند محمد اسحق رازقی سوله دوست | ۲۰۰؋ |
| ۱۵ | پوهنوال شېر زمان حمیدي | پوهنوال شېر زمان حمیدي | ۳۲۰؋ |
| ۱٦ | پوهنمل سید اکرم هاشمي | پوهنمل سید اکرم هاشمي | ۲۰۰؋ |
| ۱۷ | عبدالقیوم زاهد مشواڼی | عبدالقیوم زاهد مشواڼی | ۵۲۰؋ |
| ۱۸ | مسلک فهم محمد آغا ډاډمن | مسلک فهم محمد آغا ډاډمن | ۲۰۰؋ |
| ۱۹ | پوهیالی دین محمد مشفق | پوهیالی دین محمد مشفق | ۲۳۰؋ |
| ۲۰ | مهندس رویا مطلق زاده | مهندس رویا مطلق زاده | ۳٦۰؋ |
| ۲۱ | هشت گفتار در باره فلسفه موسیقی1 | داریوش صفوت | ۳۸۰؋ |
| ۲۲ | هشت گفتار در باره فلسفه موسیقی۲ | | ۲۰۰؋ |
| ۲۳ | هشت گفتار در باره فلسفه موسیقی۳ | | ۳۰۰؋ |
| ۲٤ | هشت گفتار در باره فلسفه موسیقی٤ | | ۲۵۰؋ |
| ۲۵ | داکتر منصور مجاب | داکتر منصور مجاب | ۲۰۰؋ |
| ۲٦ | عبدالرحیم مسلم دوست | عبدالرحیم مسلم دوست | ۳۵۰؋ |
| ۲۷ | مولوی حمد الله خونزاده | مولوی حمد الله خونزاده | ۱۳۰؋ |
| ۲۸ | ابو جعفر احمد بن محمد بن سلامه طحاوی | ابو جعفر احمد بن محمد بن سلامه طحاوی | ۱۰۰؋ |
| ۲۹ | محمد العریفی | محمدالعریفی | ۱۵۰؋ |
| ۳۰ | روبېن شرما/ میراحمد یاد | روبېن شرما/ میراحمد یاد | ۱۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۵۰ |
| € | ۹۰ |
| Rp. | ۵۰۵ |
| ₹ | ۱۱۶۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۱۰۲ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# ولې د استخدام پر وخت، د کارکوونکي تر تخصص د هغه شخصیت مهم دی؟

**ژباړه: امان الله «حنیفي»**

د هر کار او دندې د پایښدو لپاره د کارکوونکو ترمنځ اغېزناکې اړیکې تر هرڅه مهم او ارزښتناک حیثیت لري. هرڅومره چې ستاسې کارکوونکي متخصص او پر کار پوه وي، تر هغې چې د اړیکې په ساتلو او له مقابل لوري سره په مرسته کولو کې سست وي، ستاسې په درد نه خوري. په دې وروستیو کې ډېری مدیران په کاري چاپېریال کې د کارکوونکي تر تخصص د هغه شخصیت ته ارزښت ورکوي. هغه کارکوونکی چې ځان تر نورو مجرب او پوه ښکاره کوي او یا د هر چا کار کې کار لري، پرته له شکه چې هم ستاسې او هم د خپل کاري پرمختګ په لار کې لوی خنډ گرځي. موږ په همدې مقاله مدیرانو ته هغه لارې چارې ښیو، چې د استخدام په وخت د کارکوونکي تر تخصص د هغه شخصیت ته په ارزښت ورکولو کې له هغه سره مرسته وکړي، څو ښه کارکوونکي پر دنده وگوماري.

**۱-پر هرڅه پوه کارکوونکی ستاسې په درد نه خوري**

په مخکې وختونو کې به هر مدیر د داسې کارکوونکي په لټه کې و، چې پر هرڅه به پوه و. دوی غوښتل چې له تخصص پرته په نورو برخو کې اشنایي لرونکي کارکوونکي وگوماري، چې دا د استخدام پر وخت تر ټولو لویه تېروتنه ده. د بېلګې په ډول، د مارکېټېنګ د برخې یو کارکوونکی چې یوازې د یو بازار په سطحه د تبلیغاتو وړتیا ولري، کفایت کوي. خو ځینې مدیران بیا وایي چې د مارکېټېنګ برخې کارکوونکي د تبلیغاتو رسولو ترڅنګ باید په پلان جوړونه او د انلاین کمپنیو په مدیریت کې هم ښه وړتیا ولري، خو په دې وروستیو کې هرڅه بدلون کړی دی. نن ورځ ډېری مدیران د کار په ډول، د ستونزو پر حل او د هغه پر بدیل امتیاز او د ځینو نورو اړخونو په نظر کې نیولو سره په ډېر متفاوت ډول برخورد کوي. په داسې شرایطو کې پر هرڅه پوه کارکوونکی په درد نه خوري؛ بلکې داسې کس پکار دی، چې نوښت ولري او وکولای شي هغه لارې وازمويي چې تر اوسه بل چا پرې پل نه دی ایښی او دا ځانګړنې لرل دقیقاً د یوه ښه کارکوونکي د شخصیت استازولي کوي.

**۲- په نوې دنده کې یوازې تخصص لرل مهم نه دي**

پر هرڅه پوه کارکوونکی نن ورځ ډېر په درد نه خوري. کلونه مخکې په کاري چاپېریال کې د خپل پوزېشن وړاندوینه کول ډېر محدود او کم شونی کار و، خو نن ورځ کاملاً شرایطو بدلون کړی دی. د بېلګې په ډول، کلونه مخکې مو د انلاین بازارموندنې په برخه کې د (خوشحالۍ مدیر) په نوم پوزېشن هېڅ نه پېژانده، خو کله چې د دغه پوزېشن په رامنځته کولو فکر وشو، سمدستي یې دنده او کار هم مالوم شول چې د شرکت له خدمتونو به د خلکو په راضي ساتلو کې کار کوي. دا چې دغه دنده او پوزېشن ډېر نوی او خلاقانه دی، د استخدام په وخت مدیر نه شي کولای چې د څو کارکوونکو له منځه داسې سړی انتخاب کړي، چې هغه مخکې په دې برخه کې کار کړی وي. دقیقاً باید په داسې شرایطو کې د کارکوونکي شخصیت ته د هغه تر تخصص زیات ارزښت ورکړل شي.

**۳- د کاري ټیم وړتیا تر هرڅه زیاته د کارکوونکوپه شخصیت پورې اړه لري**

د کاري ټیم وړتیا تر هرڅه د کارکوونکو په شخصیت پورې اړه لري. نن ورځ ډېر کارونه په گروپي او ټیمي ډول ترسره کېږي، نو په دې لحاظ مدیر باید داسې کسان پر دنده وگوماري چې هغوی انعطاف منونکي، له مقابل لوري سره مرسته کوونکي او د خپلو تجربو شریکوونکي و اوسي، څو وکولای شي د ټیم له ټولو غړو سره ښه اړیکه وساتي. هغه کارکوونکی چې باید ۹۰ سلنه وخت د خپل ټیم له غړو سره یو ځای کار وکړي، که ځان خوښوونکی او پر نور نه ورگډېدونکی خاصیت ولري، حتماً ده چې په کاري ټیم کې دې ستونزې رامنځته کړي. هغه کس چې په شخصیتي لحاظ په گډ ټیم کې د کار کولو روحیه ونه لري یا په ډېرې سختۍ سره په هغه کې کار کوي، بیخي ناممکنه ده چې هغه د ښه لاسته راوړنه ولري.

**۴- د کارکوونکي د شخصیت بدلول ناممکن دی**

د کارکوونکي د شخصت بدلون د مدیر له وسه وتلې خبره ده. ځکه دا له ډېره وخته زده شوی او په وار وار تکرار شوی عمل دی. خو داسې هم نه ده چې د هغه شخصیت تور کاڼی دی او په هېڅ رقم نه ماتېږي، د ځینو خاصو لارو چارو په استعمال سره کولای شي خپلو کارکوونکو ته د کار کولو لاره وښیی. که تاسې د استخدام پر وخت داسې کارکوونکي پر دنده وگوماری چې ښه تجربه ولري، خو په شخصیتي لحاظ بیا نیمگړی وي، باوري اوسی چې ستاسې لپاره به درد سر وي. ځکه په کاري چاپېریال کې د یو چا د شخصیت اصلاح کول سلو په سلو کې بې پایلې کار دی. نو ښه خبره دا ده چې د استخدام پر مهال د نیمگړي شخصیت، خو پوره تجربه لرونکي کارکوونکي په گومارلو پسې ونه گرځئ. د هغه پر ځای د هغه کارکوونکي په لټه کې شی، چې د کار او زده کړې مینه وال وي. دا دقیقاً هغه کسان دي چې پر فوق العاده کارکوونکو اوړي. هغه کارکوونکي چې ښه شخصیت، خو کمه کاري تجربه ولري، د هغه په پرتله چې ډېره کاري تجربه او بد شخصیت لري، په څو څو واري ستاسې شرکت او کاري دفتر ته د بریا راوړلو ضامن دي.

**۵- د گډ کاري ټیم د کارکوونکو د شخصیتونو ترمنځ باید تعادل په پام کې ونیول شي**

د گډ کاري ټیم د کارکوونکو د استخدام پر مهال څو ډوله شخصیت لرونکي کارکوونکي وگومارئ. داسې نه چې تاسې یو ډول شخصیت لرونکي کسان ځای پر ځای کړی. د کارکوونکو ترمنځ د شخصیت د تعادل په پام کې ساتل، واقعاً ټیم ته خوشالي ورکوي. اوسنیو کارکوونکو ته مو ښه پام وکړئ او د هغوی هر یوه له اخلاقو او عادتونو یو ذهني فهرست واخلئ. اوس وگورئ، ستاسې د کارکوونکو ترمنځ کوم عادت نیمگړی دی. د بېلګې په ډول، کېدای شي ستاسې د ډېری کارکوونکو شخصیت داسې وي چې هغوی کمې خبرې کوي او پر همدې اساس کله چې دفتري موبایل ته زنګ وهل کېږي، هر یو د دې کوښښ کوي چې هغه بل ځواب ورکړي. نو که داسې وخت کې یو ډېرې، خو پر ځای خبرې کوونکی کارکوونکی کس وگوماری، څومره به ښه وي. د کاري مصاحبې او استخدام پر وخت، د کارکوونکي له دغو ځانګړنو سترگې مه پټوئ، ضرور نه ده چې هغوی د پوره کاري تجربه ولري، چې ښه شخصیت ولري، حتماً به بریا ته رسېږي.

## افغان حکومت: د دوحې د بین‌الافغاني ناستې په تړاو معلومات نه دي راکړل شوي

افغان حکومت وایي، په قطر کې د بین‌الافغاني ناستې جزیات لا تر اوسه له دوی سره نه دي شریک شوي.

په داسې حال کې چې د راتلونکې اونۍ د شنبې او یکشنبې په ورځو کې د قطر په مرکز دوحه کې د قطر او جرمني په کوربه‌توب، بین‌الافغاني ناسته جوړېږي، افغان چارواکي وایي چې له دوی سره د دې ناستې جزیات نه دي شریک شوي.

خو د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي د تېرې ورځې په خبري کنفرانس کې هیله وښوده چې دغه ناسته او د نړیوالې ټولنې هلې ځلې به د دې لامل شي چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ بین‌الافغاني خبرې پیل شي.

هغه ویلي: «موږ د دې ناستې د جزیاتو په اړه معلومات نه لرو، کوم افراد او اشخاص چې دې ناستې ته بلل شوي، طبعاً د شخصي ادرسونو او اشخاصو په توگه برخه اخلي. موږ د برخې اخیستونکو په اړه هم معلومات نه لرو، خو زموږ لپاره مهمه دا ده چې د افغانستان د سولې پروسې مالکیت د افغانانو په لاس کې دی».

که څه هم نوموړي د دغې ناستې په تړاو زیات جزیاته نه دي ورکړي، خو د راپورونو په اساس په دې ناسته کې نږدې ۸۰ تنه برخه اخلي او د غونډې اجنډا به د ناستې په لومړۍ ورځ ټاکل کېږي.

له دې وړاندې د سولې شورا ویاند غفور احمد جاوید ازادي راډیو ته ویلي چې که د حکومت استازي په دې ناسته کې برخه اخلي، نو باید د حکومتي استازو په توگه برخه واخلي، نه د اشخاصو په توگه.

دا ناسته چې ټاکل شوې په قطر کې وشي، د برگهاف بنسټ له خوا تنظیم شوې او د کوربه‌توب چارې یې د جرمني او قطر پر غاړه دي.

د افغانستان او پاکستان لپاره د جرمني ځانګړي استازي مارکس پوتزل ویلي، په قطر کې بین‌الافغاني خبرې به په افغانستان کې سولې ته د رسېدو لپاره یو مهم فرصت وي او جرمني هیله لري چې دغه خبرې د جگړې د ښکېلو خواوو ترمنځ باور رامنځته کړي.

په هغه اعلامیه کې چې د پوتزل له خوا خپره شوې، دا واضح شوې چې په دغو خبرو کې ټول گډونوال به په انفرادي او برابره توگه برخه اخلي.

دا په داسې حال کې ده چې طالبانو له دې مخکې له افغان حکومت سره د مخامخ خبرو په اړه تل ویلي، چې له افغان چارواکو سره د حکومت د استازو په توگه نه، بلکې د عادي افغانانو په توگه خبرې کوي.

## سناتوران: د امریکا او طالبانو له جامع توافق پرته جگړه نه ختمېږي



په قطر کې د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرو اترو ته له خوشبینۍ سره هممهاله، د مشرانو جرگې غړي د دغو مذاکراتو د پایلو په تړاو اندېښنه لري.

د مشرانو جرگې غړو د سې شنبې ورځې په عمومي غونډه کې له امریکا یې هیئت غوښتنه وکړه چې له وسله والو طالبانو سره د جامع او هر اړخیز هوکړه لیک هڅه وکړي.

سناتوران وایي، که له طالبانو سره پر جامع توافق هوکړه ونه شي، طالب جنگیالي به په نورو استخباراتي ډلو کې جذب او روانه جگړه به لا شدیده شي.

د مشرانو جرگې غړی رحمت الله اڅکزی وایي: «که له طالبانو سره هم د حکمتیار په څېر سوله کېږي، موږ یقیني یو او په دې اړه معلومات لرو چې د دوی جنگیالي به له نورو ډلو سره یوځای کېږي».

سناتوران په قطر کې د دواړو غاړو پر روانو مذاکراتو نیوکه کوي او وایي، سره له دې چې یاد مذاکرات د سولې په موخه پیل شوي، خو بیا هم وسله والو طالبانو خپلو بریدونو ته دوام ورکړی دی.

په ورته مهال د مشرانو جرگې غړي پر امنیتي او کشفي ادارو نیوکه کوي چې د کابل ښار امنیت په ټینګښت کې پاتې راغلي او د کشفي ادارو د کمزورۍ له امله وسله والې ډلې د دولت پر مهمو ودانیو بریدونه کوي.

د دې جرگې رییس فضل الهادي مسلمیار وایي: «له ټولو امنیتي او کشفي ادارو څخه مو غوښتنه دا ده چې خپل مسوولیتونه په سمه توگه اجرا کړي. دغه راز له شک پرته چې د کابل د وروستۍ پېښې په مخنیوي کې امنیتي ادارې پړې دي».

د مشرانو جرگې غړو دغه راز د تېرې ورځې په عمومي غونډه کې له امنیتي ادارو غوښتنه وکړه چې د مچلغو پر بند د برید پېښه هم په جدي ډول وڅېړي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily








چهارشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د جولای دریېمه | دریم کال | ۳۹۸یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۴ | ۳۳ | ۴۳ | ۳۴ | ۳۵ | ۳۵ |
| ۱۶ | ۱۸ | ۲۴ | ۲۳ | ۲۲ | ۲۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۱ | لمر ختل ۰۴:۴۴ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۳:۴۴ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵۹

## نړۍ



### د اټومي انرژۍ نړیواله اداره:
# د ایران د یورانیمو کچه له ټاکلې کچې لوړه شوې ده
۳

## جنوبي کوریا: د ټرمپ او کیم جونګ اون وروستۍ لیدنه د دښمنیو د پای په مانا ده



د جنوبي کوریا ولسمشر د امریکا او شمالي کوریا د مشرانو ترمنځ وروستۍ کتنه چې د دواړو کوریاګانو ترمنځ په پوله کې یې سره وکتل، د هېوادونو ترمنځ د دښمنیو لپاره پای وبلله.

د جنوبي کوریا ولسمشر مون جه اېن دغه څرګندونې د خپلې کابینې غونډې ته کړې او ویلي یې دي چې د ټرمپ او کیم کتنه دا مانا لري چې دواړو هېوادونو د دښمنیو د پای ته رسولو او د سولې د یوه نوي پړاو د پیلولو اعلان وکړ.


دا په داسې حال کې ده چې د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ او د شمالي کوریا مشر کیم جونګ اون د جون په ۳۰مه د دواړو کوریاګانو ترمنځ په ګډه پوله کې سره وکتل.

د جنوبي کوریا ولسمشر د شمالي کوریا د اټومي لانجې د سوله ییز هواري لپاره هڅه کوي چې د ټرمپ او کیم ترمنځ ډیپلوماسي پیل شي.

ټرمپ او کیم په دې کتنه کې هوکړه کړې چې د اټومي لانجې پر سر خبرې بېرته پیلوي، خو یوې خوا هم نښه ونه ښوده چې په څه ډول به د کوریا د ټاپووزمې چې له اټومي وسلو څخه پاکه وي، هدف تر لاسه کوي او ایا په دې برخه کې موافقې ته نږدې شوي او که نه.

خو دواړو مشرانو ژمنه کړې چې مذاکراتي پلاوي به یې په راتلونکې کې د ګډو ناستو لپاره چمتووالی نیسي.

## په سایبریا کې د سېلابونو د راوتلو له کبله لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



د روسیې د بېړنیو حالاتو وزارت ویلي چې د سایبریا په ایرکوتسک سیمه کې د وروستیو سختو سېلابونو له کبله د مړو شمېر ۱۴ ته لوړ شوی او ۱۳ تنه تر اوسه تري تم دي.

د دغه وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې ویل شوي چې په سیمه کې د موسمي بارانونو له امله د راوتلو سېلابونو په پایله کې ۱۹۱ کسان ټپیان شوي، چې اوسمهال یې په روغتونونو کې درملنه کېږي.

د سرچینې په خبره، د ټپیانو له ډلې ۳۸ تنه یې ماشومان دي.

یاد وزارت ویلي، د دغو سېلابونو له امله زرګونه کورونه هم وران شوي او له ۲۰۰۰ زیات کسان له سېلاب ځپلو سیمو ایستل شوي دي.

دغه وزارت همدارنګه زیاته کړې چې د پېښې ځای ته ژغورونکي او مرستندوی ټیمونه رسېدلي او ډېر کسان تر دې مهاله ژغورل شوي دي، خو دغه وزارت په ورته وخت کې خبرداری ورکړی چې ښایي په راتلونکو څو ورځو کې نور سېلابونه هم راووځي.

د یادونې ده چې سایبریا د روسیې له هغو سیمو څخه ده چې هر کال پکې د سختو سېلابونو د راوتو له کبله لسګونه کسان خپل ژوند له لاسه ورکوي.

## امیرخان یار نائب اول و احمدشاه رمضان نائب دوم ولسی جرگه شدند



امیرخان یار با گرفتن ۱۳۱ رای تائید نائب اول و احمدشاه رمضان با کسب ۱۱۹ رای تائید نائب دوم ولسی جرگه انتخاب شدند؛ اما نامزدان کرسی‌های منشی و نائب منشی رای لازم نگرفتند.

بعد از گشایش دور هفدهم تقنینی شورای ملی در ۲۸ ثور، در سه دور انتخابات که با مخالفت‌ها میان اعضای جرگه همراه بود، سرانجام میر رحمان رحمانی رئیس این جرگه انتخاب شده است.

در سه روز گذشته برای کرسی‌های نائب اول، نیابت دوم، منشی و نائب منشی، شماری از اعضای جرگه نامزد شده بودند؛ اما هیچ کدام پنجاه درصد جمع یک رای را از آن خود نکرد.

در نشست دیروز ولسی جرگه، باز هم برای این کرسی افراد جدید نامزد شدند.

در این نشست، ۲۳۶ تن حضور داشتند و هر نامزد، باید برای برنده شدن ۱۱۹ رای را از آن خود می کردند.

دیروز برای پست نیابت اول، امیرخان یار نماینده مردم ننگرهار و محمدالله بتاش نماینده مردم کندز در ولسی نامزد شده بودند.

در نتیجه، امیرخان با گرفتن ۱۳۱ رای توانست که به حیث نائب اول جرگه انتخاب شود؛ اما بتاش ۵۰ رای داشت و آرای لازم را به دست نیاورد.


برای کرسی نیابت دوم احمدشاه رمضان نماینده مردم بلخ و سیداحمد سیلاب نماینده مردم کندهار نامزد شده بودند و سرانجام احمدشاه رمضان با کسب ۱۱۹ رای تائید، نائب دوم این جرگه شد. سید احمد سیلاب ۶۴ رای تائید داشت.

در نشست دیروز این جرگه برای کرسی منشی؛ سید طاها صادق نماینده هرات، عبدالقادر قلاتوال نماینده مردم زابل و خدیجه الهام خلیلی نماینده مردم کاپیسا، نامزد شده بودند.

خدیجه الهام با کسب ۵۲ رای تائید، قلاتوال با ۷۷ رای تائید و صادق با ۷۶ رای تائید نتوانستند آرای لازم برای برنده شدن را از آن خود کنند.

## ژوند

## د روغو غاښونو لپاره څه وخورئ او څه مه خورئ؟!



دا یو څرګند حقیقت دی، چې ځینې داسې خواړه شته، چې غاښونو ته ګټه لري او ځینې نور بیا بالعکس له ګټې یې تاوان ډېر دی. لومړی به د هغو خوړو یادونه وکړو، چې غاښونو ته ګټه لري.

۱ـ لبنیات

شیدې، مستې، کوچ او پنیر، کلسیم او فاسفیټ لري. غاښونه قوي کوي او د هغوی تیزابي خاصیت هم له منځه وړي.

۲ـ بې بورې ژاولې

هغه ژاولې چې بوره ونه لري، د غاښونو په روغ ساتلو کې مهم رول لري. ژاولې په غاښونو کې د ډوډۍ پاتې بخرې ختموي او غاښونه روغ ساتي. د دې ترڅنګ، غاښونه د مخ کاسې په جوړښت کې هم رول لري.

۳ـ چای

شین چای او تور چای دواړه د غاښونو په روغ او پاک ساتلو کې مرسته کوي. چای په غاښونو کې بکتریاوې ختموي. خو ډېر چای څښل بیا د ګټې پر ځای تاوان لري. چای په اندازه وڅښئ!

۴ـ ماهي

د ماهي غوښه هم غاښونه قوي کوي او غاښونه روغ او صحتمند ساتي.

هغه خواړه چې غاښونه خرابوي


۱ـ نوشابه

د ښناک ټول هغه شربتونه، چې بوره ولري، غاښونه خرابوي.

۲ـ خواږه

چاکلیټ، بوره او هر ډول خواږه غاښونه خرابوي. ککاوو او چاکلیټ بیا نسبتاً ګټور دي.

## مثبت ذهن ستونزې پر ګټه تامولی شي



کېدای شي ډېر کله مو خلک په اړه غیرعادلانه قضاوت وکړي. ډېر کله خلک ستاسو په اړه داسې خبرې او قضاوت کوي، چې په هغوی پورې هېڅ اړه نه لري. کېدای شي د هغوی خبرې زړه ته واچوی، پر کړنو مو منفي اغېز وکړي، پر ځان باور مو کم شي او تاسو له ځان پېژندنې لرې کړي. خو دا هر څه هغه وخت پېښېدای شي، چې تاسو د هغوی خبرې بیا بیا په خپل ذهن کې تکرار کړی. تاسو د لوی خدای ج مخلوق یاست. په تاسو کې د خدای ج روح چلېږي. تاسو د ځمکې پر سر د خدای ج پاک خلیفه یاست. کېدای شي خلک هڅه وکړي، چې تاسو تحقیر کړي، یا داسې حس درکړي چې له ځانه مو زړه در تور کړي، خو په اصل کې د هغوی دغه کړنې ستاسو په وجود کې کوم بدلون نه شي را وستی. تاسو اوس هم خپل خدای ته ګران یاست. تاسو اوس هم د خدای ج تر ټولو ارزښتناک مخلوق یاست. خدای پاک اوس هم ستاسو لپاره یوه روښانه راتلونکې ستاسو پر وړاندې اېښې ده. که د حذف بټنه کېکاږئ او ټول منفي فکرونه مو له ذهنه لرې کړئ، کولی شئ ستونزې هم پر خپله ګټه تمامې کړئ.